# د ټاکنو خپلواک کميسيون پرېکړه ليک

| | |
|---|---|
| د پرېکړې شمېره | ۱۳۹۲-۴۲ |
| موضوع: | ۱: د کميسيون په لعني غونډو کې د استازو او کتونکو د ګډون لايحه<br>۲: د هلمند ولايت په ولايتي شورا کې د ځايناستي غړي معرفي.<br>۳: استازو او کتونکو بنسټونو ته د باورليک ورکول |
| مرجع | د ټاکنو خپلواکميسيون دارالانشا |
| د جلسي نېټه او ځاى | ۱۳۹۲ کال د دلوي۲۹ (۲۰۱۳ کال د فبروري ۱۸) د ټاکنو خپلواک کميسيون مرکزي دفتر |
| حاضر غړي: | ښاغلی ډاکتر احمديوسف نورستانی، ښاغلی عبدالرحمن هوتکي، اغلي ګلالی اڅکزی، ښاغلی سرير احمد برمک، ښاغلی پوهاند محمدحسين ګرزيواني، ښاغلی محمد عزيز بختياري، ښاغلی قاضي سلېمان حامد، اغلي ليلا احراري او اغلي شريفه زرمتی وردګ. |

د ټاکنو خپلواک کميسيون او د ټاکنيزو شکايتونو خپلواک کميسيون د تشکيل، دندو او صلاحيتونو قانون د (۷۹) مادې او د( ۱۲ ) مادې د( ۳ ) فقرې او د ټاکنو قانون د (۳۱ ) مادې (۳) فقرې او( ۵۵ ) مادې حکمونو ته په پام

## د ټاکنو خپلواک کميسيون پرېکړه کړې چې:

۱. د کميسيون په علني غونډو کې د استازو او کتونکو د ګډون لايحه چې له دې پرېکړه ليک سره مل ده، تايد او تصويب ده.
۲. ښاغلی محمد داوود د نېک نظر زوی دې د هلمند ولايت ولايتي شورا کې د ښاغلي محمدانور د ځايناستي په توګه معرفي شي.
۳. لاندينيو بنسټو ته دې چې کميسيون ته يې له مقرراتو سره سم لازم اسناد برابر کړي او اړوند د چلند اصول يې لاسليک کړي دي، په ترتيب سره باورليک ورکړل شي:

### الف: د کتونکي بنسټ په توګه د باورليک ورکول:

- د افغانستان ژباړې او څېړنې مرکز
- د پکتيا د ځوانانو د همغږي ټولنه
- پکتيا ولايت د ځوانانو متحده شورا
- د نوي کتنې ټولنيز انجمن

### ب: د ټاکنو بهير څخه د راپور برابرولو په موخه باورليک ورکول:

- سيمای غزني مياشتنی
- همصدا راډيويي خدمتونه

ج: د استراليا ملي پوهنتون پروفيسور ښاغلي ويليام ميلي او شپږ تنو ملګرو ته دې د ځانګړو مېلمنو په توګه باورليک ورکړل شي او په ټاکنيزو مرکزونو کې د هغوی حضور دې د ځانګړو مېلمنو د لايحې مطابق تنظيم شي.

| له پرېکړې سره په مخالفت کې | د غړو نومونه | د پرېکړې تاید |
|---|---|---|
| | ښاغلی ډاکټر محمدیوسف نورستانی | |
| | ښاغلی عبدالرحمن هوتکي | |
| | اغلې ګلالۍ اڅکزۍ | |
| | ښاغلی سریراحمد برمک | |
| | ښاغلی پوهاند محمد حسین ګرزیواني | |
| | ښاغلی محمد عزیز بختیاري | |
| | ښاغلی قاضي سلېمان حامد | |
| | اغلې لیلا احراري | |
| | اغلې شریفه زرمتی وردک | |